
د سالانه امتحان نه پس د دوېم جماعت
ماشومان سکول ته په خوشحالۍ روان وو-
ګلابۍ ترور ترې تپوس وکړۀ، چرته ځئ؟
هغوي ووې،
مونږه ډېر خوشحاله يو ، مونږ بوټي کرو



کلاس کښې مس نادیه تپوس وکړۀ، تاسو
د کرلو د پاره ځان سره تخم راوړے دے؟
ماشومانو په خوشحالۍ ووې، هاؤ جي
مس- چا لوبیا راوړې وه، چا چڼه، چا دڼیا
رواړې وه او چا شړشم-



ماشومانو د سکول په دوبچه کښې خپل
خپل تخمونه ښخ کړل- هغوي ورسره په
تختيو خپل نومونه هم وليکل- صدف ووې،
مونږ به د خپلو تخمونو خسمانه کوو- ټولو
ووې، مونږه ډېر خوشحاله يو، مونږ تخم کرو




يو څو ورځې پس هغوي ته په زمکه کښې
شنئ شنئ څۀ ښکاره شول- ماشومان ډېر
خوشحاله شو چې د هغوي بوټي را ټوکېدلي
وو- ټولو د خوشحالۍ نه ووې،
مونږه ډېر خوشحاله يو ، بوټي به ساتو-




مس بوټو ته ډېره خوشحاله شوه او ویې وئیل،
د زمکې نه ګنده بوټي وباسئ چې ستاسو
بوټي د خرابېدو نه بچ شي- ټولو ماشومانو
ګنده بوټي ووېستل او ووئیل یې،
مونږه ډېر خوشحاله یو خپل بوټي بچ کوو



ګېرچاپېره شينکې خور شۀ- ټول ورته ډېر
خوشحاله وو- يو ماشوم يو بوټي ته لاس کړۀ-
ساره بوټي شوکولو نه منع کړۀ- ماشوم بخښنه
وغوښته چې بيا به نه کوي- ټولو ماشومانو
ووې، مونږه ډېر خوشحاله يو، خپل بوټي ساتو-



ماشومان په ښو نمبرو پاس شول- مشرې مس ټولو ته مُبارکي ورکړه- مس نادیه ئې وستایله چې د هغوي له کبله ټول سکول دومره شین شوے وۀ- ماشومانو ووې، مونږه ډېر خوشحاله یُو دوېم به پاس کوو-



بنیادي سوال

مونږ بوتي ولې کرو؟

## د لوستلو صلاحيتونه او حکمت عملۍ

اواز: کشیررکني ټکي

د ټکیو پنګه: سالانه، روان، خوشحاله، تخم، ټوکیږي، روزانه، ښکاربدل، ضائع، شینکۍ، اُمبارکي، ستايله، بخښنه

ژب داني: فعل ماضي، حال، مستقبل

## لېوليډ ريډر

په يو کلاس کښې د لوستلو د صلاحيت مطابق د ماشومانو مختلف ګروپونه وي- لکه ابتدائي، مينځنۍ او د بهترې درجې لوستونکي- د دې صلاحيتونو مطابق د ماشومانو د پاره د لېوليډ ريډر په نوم مختلفې قيصې ليکلې شوي دي- د دې لېوليډ ريډر متن په رو رو سېوا کړے شوے دے- د لېوليډ ريډرز بنيادي مقصد ماشومان خپلواکه لوستونکي جوړول دي- د 24 هفتو د پاره د لېوليډ ريډر 8 سېټونه تيار کړي شوي دي- د هر لېوليډ ريډر سېټ د پاره درې هفتې ټاکلې شوي دي- د هر يو لېوليډ ريډر په شاتني مخ د ماشومانو د پاره د لوستلو متعلقه مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي-

د چپايۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړۀ پورې کوشش شوے دے- بيا هم کۀ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څۀ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ضلعي يا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

## استاذانو د پاره لارښوونې

د وړومبيو دريو مخونو نه پس لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. په قيصې کښې د کومو کومو تخمونو ذکر شوے دے؟
2. ماشومانو خپل تخمونه چرته ښخ کړل؟

د نيمې قيصې نه پس لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. ماشومانو بوټي ضائع کېدو نه بچ کولو د پاره څۀ وکړل؟
2. د ټکي "شينکې" هم اواز ټکے جوړ کړئ؟
3. ساره ماشوم د بوټي ماتولو نه ولې منع کړو؟

د قيصې په اخره کښې لاندينې تفهيمي سوالونه تپوس کړئ-

1. قيصې په خپلو ټکيو کښې دوباره ولولئ؟
2. ستاسو په دې قيصې کښې کوم خبره خوښه شوه؟
3. د بوټو لګولو کومې کومې فائدې دي؟


www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلقو په مرسته د امريکې بين الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن شوې ده- دا مواد يو ايس ايډ- پاکستان ريډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان ريډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو ايس ايډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-